# جریده میزان

قوه قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه


---

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

---


د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهار شنبه ۱۹ تله ۱۴۰۲ هـ ش | ۲۶ ربیع الاول ۱۴۴۵ هـ ق | ۱۱ اکتوبر ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۴۵)


## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تعلیماتو په عمومي ریاست کې (۴۵) ورځنی تربیتي سیمینار پای ته ورسېد

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تعلیماتو عمومي ریاست په تالارکې (۴۵) ورځنی قضائي تعلیمي سیمینار چې د روان ۱۴۴۵ هجري قمري کال د محرم الحرام د میاشتې په ۲۵مه نېټه پیل شوی و، د ربیع الأول د میاشتې په لسمه نېټه پای ته ورسېد.

په دغه سیمینار کې د بېلا بېلو محاکمو (۲۲) تنه جدید التقرر قضائي غړي شامل وو چې د قضاء برخې د مسلکي استادانو او شیوخ کرامو لخوا ورته د قضائي موضوعاتو اړوند عملي او نظري روزنه ورکړل شوه.

په یاد قضائي سیمینار کې د بېلا بېلو قضائي چارو اړوند علمي او نظري درسونو سربېره په ګډونوالو مختلف النوع قضائي فیصلې، وثایق، قرارونه اونور ولیکل شول.

د یاد سیمینار ګډونوالو د سترې محکمې له عالي مقام څخه مننه وکړه چې دوی ته یې د قضاء په برخه کې د مسلکي وړتیا لوړنې په موخه یاد سیمینار جوړ کړی وو او وویل، د دغه سیمینار په سبب به د دوی په قضائي چاروکې لا پرمختګ او چټکتیا رامنځته شي.

د یادونې وړ ده چې په قضائي زده کړو عمومي ریاست کې د هېواد د ۳۴ ولایتونو د نظامي محاکمو د قضاتو، مفتیانو او محررینو لپاره هم ۴۵ ورځنی علمي تربیتي سیمینار دوام لري.

## د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش یوه پلاوي د اروزګان ولایت له شپږو ولسوالیو لیدنه وکړه



د جنوب غرب زون د تمیز ریاست او د سترې محکمې د قضائي معاونیت د محترم مقام د هدایت په اساس د جنوب غرب زون د قضائي پلټنې عمومي ریاست د خپل تفتیشي پلان له مخې د یاد ریاست د قضائي پلټونکو څخه جوړ پلاوي د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۱۱مه، ۲۵مه، ۲۶مه، ۲۷مه، ۲۸مه او ۲۹مه نېټه اروزګان ولایت د ګیزاب، چهارچینو، دهراود، خاص اروزګان، چینارتو او چوره ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

د قضائي تفتیش یاد پلاوي د اروزګان د ابتدائیه محاکمو څخه د لیدنې پر مهال د یادو محاکمو لخوا صادرې شوې فیصلې بررسي او په دقت مطالعه کړې او د شرعي فیصلو د صادرولو په اړه یې د محاکمو مسؤولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

وروسته یې د یادو محاکمو ملاحظات د هرې محکمې د قضائي پلاوي سره په احسنه طریقه شریک کړل او له محاکمو څخه یې د وضاحت غوښتلو د طرزالعمل مطابق د یادې هرې ولسوالۍ د قضائي پلاوي څخه پوښتنې وکړې.

په دې سربېره دغه پلاوي د خپلې کاري لایحې مطابق د یادو ټولو ابتدائیه محاکمو د عریضو د ثبت، د حقوقي دوسیو د ثبت، د جزائي دوسیو د ثبت، وارده او صادره، د رسیداتو کتاب، د حاضرۍ کتاب او درې میاشتنی راپور بررسي او مطالعه کړل او په دې برخه کې یې ورته لازم هدایات وکړل.

وروسته یاد پلاوي د رایو په اتفاق د یادې هرې محکمې د فیصلو د صحت او سقم فیصدي معلومه کړه.

دغه راز د قضائي تفتیش پلاوي د بندیانو د وضعیت د څېړلو په موخه د یادې هرې ولسوالۍ له محبس څخه لیدنه وکړه، د هرې ولسوالۍ د ټولو محبوسینو بشپړ شهرت او وضعیت یې له ځان سره نوټ او بیا یې له اړوند محکمې سره شریک کړ.

پر دې سربېره یاد پلاوي د هرې ولسوالۍ له قومي مشرانو او علماء کرامو سره جلا، جلا ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو په اړه یې د هغوی نظر او معلومات واخیستل.

وروسته د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش عمومي ریاست پلاوي د یادې هرې ولسوالۍ د مسؤولینو لکه: ولسوال صاحب، امنیه قوماندان صاحب او د استخباراتو له مدیر سره وکتل، له یادو مسؤولینو څخه یې د مربوطه محکمې په اړه معلومات وغوښتل او د محاکمو د فعالیتونو د لاښه پرمختګ او د ځینو ستونزو د حل په اړه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس د هېواد ۹ ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې د مرکزي تمیز اړوند جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) د یاد دېوان د مفتي محترم مفتي عبدالحي په ملتیا د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په دوهمه نېټه د هېواد نهو ولایتونو (فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ، سمنګان، بغلان، کندوز، تخار او بدخشان) ته د قضائي موضوعاتو د حل او فصل په موخه سفر وکړ.

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) د دغه سفر پر مهال د یادو ولایتونو د مرافعه محاکمو پر مسؤولینو سربېره د ولایتي محاکمو له یو شمېر نورو قضائي غړو سره هم وکتل او د قضائي موضوعاتو د حل او فصل په موخه یې وسره تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز محترم مفتي عتیق الله (درویش) د ولایتي مرافعه محاکمو قضائي غړو ته د اجراآتو د لا بهبود په موخه ځینې سپارښتنې او هدایات وکړل او له دوی یې غوښتنه وکړه چې په د اسلامي شریعت او اسلامي امارت د اصولو مطابق د مراجعینو دوسیو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

پر دې سربېره د مرکزي زون د تمیز اړوند جزا دېوان عمومي رئیس د خپل سفر په دوام د یو شمېر ولایتونو له زندانونو څخه لیدنه وکړه، د زندان له مسؤولینو او زندانیانو سره یې له نږدې وکتل او د دوی نظریات یې واورېدل.

د جزا دېوان د عمومي رئیس د دغه ۱۱ ورځنی سفر د ۲۸ بېلا بېلو موضوعاتو تر حل او فصل وروسته د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۵/۳/۱۳ هـ ق) نېټه پای ته ورسېد.

### د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیک

**پنځمه برخه**

الله تعالی په خپل کتاب کې دا ټول حالات تاسو د خپلې ځانګړې مهربانۍ او شفقت له مخې بیان کړې دي، دا کتاب د ګمراهۍ څخه د نجات، د پټوالي څخه ښکاره والي، د سختۍ څخه آساني، د فتنو څخه خلاصون، د تیارې څخه روښنایي، د پېښو څخه رغونه، د تباهۍ څخه ژغورنه، د سرکشۍ څخه سمه لاره، د ګډوډۍ څخه وضاحت، د دنیا او آخرت ترمنځ د هر شي واضح کوونکی لارښود دی.

یاد کتاب کې ستاسو د دین پوره والی نغښتې دی، نو کله چې تاسو پر دوی عرض کړل او دوی هم اقرار پرې وکړ، نو خپل ولایت نور هم تکمیل کړئ او دوی ته اسلام باندې مشرف کېدل وړاندې کړئ، چې اسلام بیا عبارت دی : د لمونځونو اداکولو، زکات ورکولو، حج ترسره کولو، د رمضان میاشتې روژې نیولو، د جنابت څخه وروسته غسل کولو، د لمانځه مخکې د اوداسه تازه کولو، د والدینو سره نېک چلند کولو، د مسلمانانو سره صله رحمي کولو، د ټولو حتی د مشرک مور او پلار سره د ښه ګذارۍ کولو څخه.

کله چې یې دا هم ترسره کړل، نو دوی اسلام راوړ، بیا نو ددې وروسته یې ایمان ته راوبلئ، همدارنګه دوی ته د اسلام شعائر او نښې وښایاست.

ایمان بیا عبارت دی: ددې ګواهي ورکول چې د الله عزوجل پرته بل د عبادت وړ څوک نشته، یګانه ذات دی او هیڅ شریک نه لري او بېشکه محمد صلی الله علیه وسلم یې بنده او پیغمبر دی، همدارنګه محمد صلی الله علیه وسلم چې په څه راتګ کړي، ټول حق دي او د هغه پرته ټول باطل دي، همدارنګه په الله، په ملائکو، کتابونو، رسولانو او نبیانو یې، د آخرت په ورځ، په موجوده کتاب( قرآنکریم) او مخکنې کتابونو یعنې تورات، انجیل او زبور باندې، همدا راز د مرګ څخه په بیا ژوندن او پاڅېدو، د قیامت د ورځې په حساب، جنت، دوږخ، مرګ او ژوند ایمان لرلو نوم دی.

نو کله چې یې په دې اقرار وکړ او ترسره یې کړل، نو دوی مسلمانان او مؤمنان شول.

اخذلیک: تتمة النظام، ۳٦ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د فراه ولایت محاکمو د یوې میاشتې په جریان کې د (۲۱۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۴۵۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپور کې له ۱۴۴۵/۱/۲۶ هـ ق څخه تر۱۴۴۵/۲/۲۴ هـ ق نېټې د فراه ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د تېرو څلورو اونیو حقوقي او جزائي اجراآت شامل دي .

**په حقوقي برخه کې:**

په یاده موده کې د فراه ولایت محاکمو ته (۱۶۰) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې . له دې جملې څخه (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۹) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي .

**په جزائي برخه کې:**

په یاده موده کې د فراه ولایت محاکمو ته (۲۱۵) جزائي دوسیې راجع شوې دي؛په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې . له دې جملې څخه (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۷) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې تر کار لاندې دي .

همدا راز په یاده موده کې (۴۵۸) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا شوې دي.

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان علاوه بر حل و فصل (۱۷۳) دوسیه به تعداد (۲۰۷) قطعه وثایق اجراء شد

توحید گزارش را پور دوسیه جات و وثایق ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت پروان از تاریخ ۱۴۴۵/۲/۱۷هـ ق الی ۲۹/ ۱۴۴۵/۲ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۴۷) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۳۹) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٦) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۲۰۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## طی دو هفته محاکم ولایت سمنگان علاوه بر حل و فصل (۱۱٤) دوسیه، (٦٤) قطعه وثایق را نیز اجرا کرده است

راپور اجراآت دو هفته ریاست عمومی محاکم مرافعۀ ولایت سمنگان از تاریخ ۱٤٤٥/۲/۱۷ الی ۱٤٤٥/۲/۲۹ هـ ق که شامل دواوین استینافی، محکمۀ ابتدائیه شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن و محاکم ابتدائیه ولسوالی های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق قرار ذیل میباشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٥۳) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلاً تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۰) دوسیه فیصله شده، راجع به (٥٦) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٤) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

درجریان دو هفته به تعداد (۳٦) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۳) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

همچنان در این مدت به تعداد (٦٤) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت لغمان طی دوهفته علاوه بر حل و فصل (۷۸) دوسیه، به تعداد (۱۳۴) وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت لغمان از تاریخ ۱۴۴۵/۲/۱۵ الی ۱۴۴۴/۲/۳۰هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۵۶)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، پیرامون (۲۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷) دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۳۲) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵)دوسیه فیصلۀ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت بغلان از آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن آن ریاست بازدید کرد

یوم یکشنبه مؤرخ ۱٤٤٥/۳/۲ هـ ق رئیس عمومی مرافعۀ ولایت بغلان الحاج مولوی محمد یوسف (ابوالوفاء) ازآمریت وثایق آن ولایت بازدید نمود.

موصوف در این بازدید از کتابهای‌کنده های وثایق مثل کتاب‌کنده نکاح خط ها، کتاب‌کنده دیگر وثایق مثل وکالت خط وغیره و کتاب شهریه وثایق بازدید نمود.

در مجموع اجراآت آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن آن ولایت قناعت بخش بوده و بخاطری مدیریت بهتر آن از سوی رئیس محکمۀ مرافعه هدایت لازم داده شد.

رئیس محکمۀ مرافعه به مسؤولین آمریت مذکور گفت که درکارهای خود از دقت زیاد کار بگیرد و وثایق را به طریقۀ اصولی آن اجرا نماید.

در اخیر برای شان توصیه نمود که با مراجعین سلوک نیک و داشته باشند.

## رئیس عمومی محاکم مرافعۀ ولایت بادغیس به ولسوالی دره بوم آن ولایت سفر کرد

یوم چهار شنبه مؤرخ ۱۴۴۵/۲/۲۸ هـ ق محترم الحاج مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت بادغیس غرض بازدید و نظارت به ولسوالی دره بوم آن ولایت سفر نمود.

رئیس عمومی محکمۀ مرافعه در جریان سفر شان از دفتر حاضری، اجراآت وثایق، کتب ثبت، اجراآت جزائی و حقوقی، وارده و صادره شان بررسی و نظارت نمود.

در جریان این بازدید واضح شد که محکمۀ مذکور طی سال ۱۴۴۴ هـ ق بتعداد (۳۸۰) قطعه وثایق، بتعداد (۱۶۱) جلد فیصلۀ جزائی و بتعداد (۳۸۰) جلد فیصلۀ حقوقی اجراآت نموده اند و در هر مورد از طرف مسؤولین محکمه پاسخ ارائیه شدکه مورد تائید قرار گرفت.

همچنان رئیس عمومی محکمۀ مرافعه افزود که اجراآت محاکم باید مستقلانه، شفاف و مطابق فرامین الهی و احکامات مقامات صالحه باشد.

در اخیر محترم الحاج مولوی فضل الدین (سعید) رئیس محکمۀ ابتدائیۀ ولسواالی دره بوم به نمایندگی از پرسونل محکمه، تشریف آوری رئیس عمومی محکمۀ مرافعه اظهار سپاس نموده و پیشنهادات خویش را در روند سهولت اجراآت محکمه به رئیس صاحب محکمه تقدیم نموده اند.

## د غزني د مرافعه محکمې لپاره نوی رئیس معرفي شو

د دوشنبې په ورځ (۱۴۴۵/۳/۳ هـ ق) نېټه د غزني ولایت د مرافعه محکمې د جدید التقرر رئیس محترم الحاج مفتي عبدالرحمن (عزیزي) د معرفت غونډه ترسره شوه.

په غونډه کې لومړی د مرافعه محکمې د مدني دېوان رئیس الحاج مولوي صلاح الدین (حقاني) نوي رئیس ته هرکلی او ښه راغلاست ووایه.

وروسته د مرافعه محکمې نوي رئیس الحاج مفتي عبدالرحمن (عزیزي) خبرې وکړې وویل، ټول باید په ګډه د دې څورېدلي ولس ستونزو ته رسېدنه وکړو.

وروسته د غزني ولایت مرستیال والي محترم مولوي رحیم الله (محمود) نوي رئیس ته د ښه راغلاست ترڅنګ د هر راز اصولي همکاریو ډاډ وکړ.

دغه راز د غزني ولایت د مرافعه محکمې مخکني سرپرست رئیس مولوي محمد مبین (الطاف) د غونډې ګډونوالو ته په خپلو خبرو کې وویل چې د غزني ولایت ټول محاکم الحمدلله په اطاعت کې ښه مخینه لري او ان شاء الله د هرې ستونزې په حل کې په حتی الوسع خپل کوښښ کوو.

یاده غونډه د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## دپکتیکاولایت د مرافعه محکمې د نوي رئیس د معرفت غونډه ترسره شوه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په لومړۍ نېټه د پکتیکاولایت د مرافعه محکمې لپاره نوی رئیس محترم مفتي محبوب الرحمن «نقشبندي» د یوې غونډې په ترڅ کې د یاد ولایت قضائي او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

یاده غونډه چې د پکتیکاولایت د مرافعه محکمې په تالارکې جوړه شوې وه او د مرافعه، ښاري ابتدائیه محاکمو د قضائي او اداري مسؤولینو اوکارکوونکو، د مرافعه محکمې پخواني رئیس محترم مفتي عبیدالله« خالد» او د دې محکمې اوسني رئیس محترم مفتي محبوب الرحمن«نقشبندي» په کې ګډون درلود د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

ورپسې د پکتیکا ولایت د مرافعه محکمې پخواني رئیس محترم مفتي عبیدالله«خالد» د قضاء د اهمیت او استقلالیت په اړه هراړخیزه وینا وکړه او د نوي رئیس د شخصیت ستاینه یې وکړه.

دغه راز د یاد ولایت د مرافعه محکمې د مدني او عامه حقونو دېوان رئیس محترم الحاج مولوي عبیدالله «فیاض» د تېر شل کلن جهادي دور او انقلاب د زحمتونو په اړه خبرې وکړې او نوي معرفي شوي رئیس ته یې د قاضي صاحبانو او کارمندانو د اطاعت او په کارونو کې د اخلاص او صداقت په اړه اطمینان ورکړ.

نوموړي له پخواني رئیس الحاج مفتي عبیدالله«خالد» څخه مننه وکړه او نوي رئیس ته یې هرکلی ووایه.

ورپسې د مرافعه محکمې لپاره نوي معرفي شوي رئیس محترم مفتي محبوب الرحمن«نقشبندي» په خپلو خبرو کې د قضاء د اهمیت، منصب او د ریاست د خدمت په اړه تفصیلي وینا وکړه وویل چې عدالت راوستل او عدالت پلي کول مو اساسي وظیفه ده.

نوموړي زیاته کړه، لوی جهاد د خپل نفس سره دی او د اسلامي امارت هر خادم او کارمند باید په خپل نفس باندې پوره تسلط ولري.

محترم مفتي محبوب الرحمن«نقشبندي» وویل، د مراجعینو کارونو ته باید په وخت سره رسېدنه وشي او په کارونوکې یې بدون له کوم شرعي عذر څخه ځنډ واقع نشي.

یاده معرفت غونډه د مرافعه محکمې د جزاء دېوان د رئیس محترم محمد«مختاري» لخوا په اختتامیه دعاسره پای ته ورسېده.

## جلسهٔ معرفی قوماندان جدید التقرر قطعهٔ امنیتی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت نیمروز تدویر یافت

یوم یکشنبه مـؤرخ ۲ ربیع الاول سال ۱٤٤٥ هـ ق تحت ریاست الحاج شیخ مولوی عبدالخالق (امدادالحق) رئیس عمومی محاکم ولایت نیمروز به اشتراک پرسونل قضائی، اداری و امنیتی محاکم در دفتر رئیس عمومی جلسهٔ معرفی قوماندان جدید التقرر قطعهٔ امنیتی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز تدویر گردید.

جلسه هذا نخست با تلاوت آیات چندی از کلام الله مجید توسط محترم قاری مولوی سمیع الحق (آخندزاده) عضو قضائی آمریت وثائق مرافعه آغاز گردید؛ سپس رئیس عمومی محاکم هدف از تدویر جلسه را بیان نموده گفت، اجراآت قضائی و اداری محاکم از استقلالیت کامل برخوردار میباشد، به اساس هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله قوماندانی عمومی محافظت محاکم از تشکیل وزارت محترم امور داخله جدا و با تشکیلات مقام عالی ستره محکمه یکجا گردیده است که تحت نام ریاست عمومی امور امنیتی و اجرائیوی قوه قضائیه فعالیت می نماید.

همچنان در سطح ولایات کشور قوماندانی های قطعات مفرزه امنیتی محاکم مرافعه، شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها نیز با تشکیل کافی ایجاد گردیده و پرسونل آن بخاطری حفاظت و تأمین امنیت محاکم توظیف گردیده اند.

رئیس عمومی محاکم در ادامه سخنان خویش افزود، هدف از تدویر این جلسه معرفی قوماندان جدید التقرر قطعه امنیتی محکمأ ابتدائیهٔ شهری و هماهنگی بیشتر میان پرسونل محاکم و قطعات امنیتی میباشد، قطعات امنیتی مؤظف میباشند تا اصول و مقررات شرعی را رعایت نموده امنیت محاکم را تأمین نمایند و از هدایات و رهنمائی های علماء اطاعت داشته باشند.

علاوه بر آن در این نشست قوماندان جدید التقرر قطعهٔ امنیتی محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری که جدیداً از جانب ریاست عمومی امور امنیتی و اجرائیوی قوهٔ قضائیه توظیف گردیده بود توسط محترم مولوی جمعه گل (فائز) قوماندان عمومی قطعات امنیتی محاکم نیمروز به حضار در جلسه معرفی شد و جلسه با دعائیهٔ خیر برای حفظ و بقای شریعت اسلامی و حاکمیت نظام فعلی خاتمه یافت.

## د اروزګان ولایت د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت له عمومي زندان څخه لیدنه وکړه

په ۱۴۴۵/۳/۲ هـ ق نېټه د ارزګان ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس د دغه ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان د رئیس مولوي کلیم الله صاحب او د یادې محکمې د عامه امنیت دېوان د رئیس مولوي احمدشاه صاحب په ملتیا د ارزګان ولایت له عمومي محبس څخه لیدنه وکړه.

د ارزګان ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس د دغه لیدنې پر مهال د محبس مسؤولینو ته هدایت وکړ چې له بندیانو سره باید ښه سلوک او ښه برخورد وکړي، کوم بندي چې مشکل ولري نو مربوطه مسؤولین یې باید پر ټاکلي وخت مشکل ورحل کړي.

محترم شیخ سخیداد (ابوالتقي) ټولو بندیانو ته توصیه وکړه چې په محبس کې باید ښه چلند وکړي، جنګ او جګړه ونه کړي او په خپل منځ کې باید د اصولو مطابق ژوند وکړي.

دغه راز نوموړي ټولو بندیانو ته ډاډ ورکړ چې ان شاءالله دوسیې به یې تر نورو دوسیو مخته کوي او ستاسې مشکلات به د شریعت په رڼا کې حل کیږي.

د یادونې وړ ده چې زندانیان د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ له ورغلي پلاوي مننه وکړه او خوښي یې څرګنده کړه چې د دوی مشکلات له نږدې اوري.

## د زابل د شاه جوی ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ څو کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په دویمه نېټه د زابل ولایت اړوند شاه جوی ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو او د یادې ولسوالۍ د دیني عالمانو او قومي مشرانو په منځګړیتوب په دې ولسوالۍ کې د مېشتو دوو کورنیو څو کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه.

شاوخوا درې کاله مخکې د شاه جوی ولسوالۍ اوسېدونکي عبدالدیان د عبدالرحمن زوی د دلاورخان په نوم یو کس د ځمکې پر سر د دعوی له امله د چاقو په ذریعه په قتل رسولی و، چې له امله د یادوو دوو کورنیو ترمنځ دښمني رامنځته شوې وه.

یاده قضیه د شاه جوی ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته د دې محکمې لخوا په غو ر او دقت وڅېړل شوه؛ وروسته د دې محکمې د رئیس محترم مولوي سعدالدین، د محکمې د مفتي محترم محب الله په هڅو او د جیدو علماء کرامو، قومي مشرانو او سپین ږیرو په همکارۍ یادې کورنۍ روغې جوړې ته تشویق او ترمنځ یې سوله وشوه.

د مقتول کورنۍ د شاه جوی ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د قضائي غړو، علماء کرامو او قومي مشرانو په حضور کې قاتل ته بخښنه وکړه او د اسلامي نظام شکرانه یې ادا کړه چې په برکت یې د دوی ترمنځ څو کلنه دښمني پای ته ورسېده.

د شاه جوی ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس وویل، موږ له خپل ملت سره هر وخت او هر ډول اصولي همکارۍ ته ژمن یو؛ ځکه دا ملت زموږ وجود او تن دی، هر درد یې زموږ درد دی.

نوموړي زیاته کړه، له مجرمینو سره به د شریعت مطابق چلندکېږي، د مظلوم له حق به دفاع کېږي او ظالم ته به د هغه د ظلم سزا ورکول کېږي.

## گزارش جلسه اداری ریاست محکمه مرافعه ولایت فاریاب

جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب به تاریخ ۱٤٤٥/۲/۲۹ هـ ق تحت ریاست الحاج مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب و با اشتراک الحاج مولوی غلام علی رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت فاریاب، مفتی صاحبان و اعضائی قضائی دواوین مرافعه، شهری، محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها، آمریت تحریرات، کارمندان مدیریت های حقوق ریاست محکمهٔ مرافعه در تالار جلسات علنی ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت فاریاب دائر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چندی از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه هدایات لازم را برای رؤسای دیوان های مرافعه و محکمهٔ ابتدائیه شهری، قضات ولسوالی ها و محررین ارائیه نموده افزو که بخاطری شریک نمودن مشکلات و پیشنهادات و دریافت راه حل برای آن جلسات اداری در هر ماه دائر میگردد.

موصوف هدف از جلسه اداری را اطاعت و تسریع روند اجراآت، رسیدگی به مشکلات و عرایض مردم خواند و گفت که منصب قضاء یک مسؤولیت بزرگ است که بدوش شما است، سعی نمائید تا عدالت به وجه احسن تطبیق و حق هیچ شخص ضایع و تلف نگردد.

سپس به موارد ذیل بحث و تبادل نظر صورت گرفت:

در مورد ترتیب و توزیع وثایق و قباله جات محاکم ابتدائیه ولسوالی ها و آمریت وثایق باید طبق رهنمود مقام عالی اجراآت داشته باشند.

از اینکه ربع دوم سال ۱٤۰۲ هـ ش به اختتام است، در رابطه به ترتیب و ارسال راپور این ربع به فارمت های مخصوص آن درج و غرض توحید و ارسال آن به مقام عالی گسیل نمایند.

سوابق و کنده جات وثایق محاکم که از سال های قبل موجود باشد و تفتیش صورت گرفته باشد غرض حفظ و مصؤنیت به آمریت مخزن تسلیم داده شود.

در مورد ترتیب کار مطابق طرزالعمل مربوطه آمریت حقوق و مدیریت حقوق ولسوالی ها امورات یومیهٔ خویش به پیش ببرند.

کدام قاضی صاحبان که با عذر شرعی مواجه می شوند؛ باید ورق رخصتی الی سه یوم بوده باشد از ریاست مرافعه اجازه خواسته شود.

جلسه بعد از استماع نظریات و پیشنهادات شاملین با دعائیه خیر و فلاح ملت خاتمه یافت .

## د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت د ټولو محاکمو له مسؤولینو سره وکتل

د شنبې په ورځ ( ۸ / ۳ / ۱۴۴۵ هـ ق) نېټه د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې په تالار کې د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ د یادې محکمې د دېوانونو، د ښاري ابتدائیه محکمې د دېوانونو او د ننګرهار ولایت د (۲۲) ولسوالیو د قضاتو، مفتیانو، محررینو او اداري کارکوونکو غونډه ترسره شوه .

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د ننګرهار د مرافعه محکمې معاون او د جزاء دېوان رئیس ټولو راغلو قضاتو ته ښه راغلاست ووایه.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ معاذالله (عارف) د غونډې ګډونوالو ته عالمانه وینا وکړه او قضات یې خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړل.

نوموړي وویل، هغه وخت په یاد کړئ چې اسلامي شعایر به مو نه شول پر ځای کولای، نبوي سنت به مو نشو عملي کولای، د طالب او ملا نوم به مو نشو اخیستی، په ادارو کې به چا نه پرېښودلی، اوس چې الله (جل جلاله) پر تاسې دغه لویه پېرزوینه او لورینه وکړه حکومت یې ستاسې په لاس درکړ او تاسې یې د دغه هیواد واکمنان وګرځولای؛ نو اوس پر تاسې لازمه ده چې د الله (جل جلاله) شکر ادا کړی، پر خلکو رحم وکړئ، دوسیې یې ورته عاجلې خلاصې کړئ، بېځایه او بې مورده یې مه بندیانوئ او د بندیانو دوسیې عاجلې ورته خلاصوئ.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس قضات د حاضرۍ پابندۍ ته متوجه کړل او د تحریراتو رئیس مولوي عبادالرحمن ته یې دنده وسپارله چې د ولسوالیو د قضاتو حاضري دې وخت پر وخت د ټلیفون له لارې تعقیبوي.

وروسته د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس د دې محکمې د قضاتو په استازیتوب محترم شیخ صاحب معاذالله ته ډاډ ورکړ چې ورسپارل شوو دوندو ته به په خپل وخت رسېدنه کوي او په احسنه توګه به یې اجرا کوي.

غونډه د مرافعه محکمې د عامه امنیت دېوان د مفتي شیخ ولي محمد لخوا د دعاپه ویلو پای ته ورسېده.

## دکندهار ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه

د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۵/۳/۴ هـ ق) نېټه دکندهار ولایت د مرافعه محکمې د رئیس محترم شیخ عبدالغفار (بحر) په مشرۍ د یادې محکمې د دېوانونود رئیسانو، غړو، د تحریراتو د رئیس او د وثایقو د آمر ترمنځ اداري غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه چې د مرافعه محکمې د ریاست مقام په دفتر کې جوړه شوې وه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته محترم بحر صاحب دامیرالمؤمنین حفظه الله پیغام چې په کې قضاتو ته د شریعت د اصولو ښه تطبیق، د محاکمو اجراآتو کې بېطرفي او ولس ته پر ښه خدمت کولو باندې ټینګار شوی و، د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړ .

دغه راز په دې غونډه کې په یو لړ قضائي او اداري موضوعاتو باندې بحث وشو اود شریعت د اصولو مطابق یې په اړه تصمیمونه ونیول شول.

یاده غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لااله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## بالای یک تن از مجرمین در ولایت جوزجان حکم جزای تعزیری تطبیق شد

یوم چهارشنبه مؤرخ ۱۴۴۵/۳/۵ هـ ق طبق حکم محاکم ولایت جوزجان بالای یک تن از مجرمین به اساس داشتن جرم شراب نوشی جزای تعزیری داده شد.
درگردهمائی که بخاطری تطبیق حکم جزای تعزیری بالای مجرم مذکور در صحن محکمهٔ مرافعهٔ جوزجان راه اندازی شده بود؛ رئیس محکمهٔ مرافعه، مسؤولین و منسوبین دیگر محاکم، مسؤولان برخی ادارات ولایتی، علماء کرام و باشندگان محل حضور داشتند.
محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس محکمهٔ مرافعه جوزجان طی سخنرانی به حاضرین این گردهمائی حکمت حدود و قصاص را بیان کرد گفت که تطبیق حدود و تعزیرات از صلاحیت های قاضی می باشد.
موصوف از قاضی صاحبان محترم تقاضا کرد که طبق مقررات شریعت غرای محمدی (صلی الله علیه وسلم) حدود، قصاص و تعزیرات را اجرا نمایند تا پند برای مجرمین و عبرت برای دیگران شده و قانون الهی در روی سرزمین اسلام تطبیق گردد.
همچنان در بخش از این گردهمائی بعد از بیان خلص دوسیهٔ مجرم حکم جزای تعزیری بالای وی تطبیق گردید.
نشست مذکور با دعائیه خاتمه یافت.

## بر اساس حکم محاکم ولایت سرپل به چهار تن از متهمین جزای تعزیری داده شد


روز یکشنبه مؤرخ (۱٤٤٥/۳/۹ هـ ق) بر اساس حکم محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی سوزمه قلعهٔ ولایت سرپل به شمول دو زن بالای چهار تن از متهمین قضایای فسق و فجور جزای تعزیری داده شد.
درگردهمایی که تحت ریاست محترم مولوی حبیب الله (حبیبی) قاضی محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی سوزمه قلعه، بخاطری تطبیق حکم جزای تعزیری راه اندازی شده بود؛ محترم مولوی محمد حسن عضو مفتی محکمهٔ مرافعه، محترم مولوی عبدالرشید عضو محرر محکمه متذکره، محترم محمد حسین (افتخاری) ولسوال سوزمه قلعه، محترم ملا احمد زبیر معاون ولسوال، محترم حاجی شاهد قوماندان امنیه، محترم مولوی عبدالحق (حقانی) مدیر جنائی، محترم ملانیک محمد مدیر استخبارات، محترم قاری محمد جاوید مدیر امربالمعروف ونهی عن المنکر، محترم مولوی سید عبدالستار مدیر معارف، مجاهدین و مردم محل حضور داشتند.
در ابتداء خلص قضایای متهمین خوانده شد و بالای هر یک آن طبق حکم محکمه جزای تعزیری تطبیق شد؛ تا عبرت به مجرمین و پند برای دیگران باشد.


## هلمند ولایت کې یوه مجرم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د سه شنبې په ورځ (۱۴۴۵/۳/۱۱ هـ ق) نېټه د هلمند ولایت د بهرامچې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په حکم یوه مجرم ته د نامشروع اړیکو په جرم تعزیري سزا ورکړل شوه.
د نوموړي مجرم دوسیه د هلمند ولایت د بهرامچې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته راجع کېدو وروسته د یادې محکمې لخوا په غور او دقت بررسي او په هغه یې د تعزیري سزا د تطبیق حکم وکړ.
د تعزیري سزا د تطبیق دغه حکم د جنوب غرب زون د تمیزعالي ریاست او د سترې محکمې قضائي معاونیت محترم عالي مقام له تائید وروسته د هلمند ولایت د محاکمو او نورو ادارو د مسؤولینو او منسوبینو، علماء کرامو، مجاهدینو او عامو هیوادوالو په حضور کې پر مجرم تطبیق شو.

## د کابل ښار ابتدائیه محکمې څلورم زون ته د نوی رئیس د معرفي کېدو غونډه ترسره شوه

د ۱۴۴۵ کال د ربیع الاول میاشتې په ۴مه نېټه د کابل ښار د ابتدائیه محکمې څلورم زون ته د نوي رئیس محترم مولوي عبدالرحمن (مطمئن)د معرفي کېدو په موخه غونډه ترسره شوه.
په یاده غونډه کې د کابل ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس ښاغلي مولوي عبدالشکور (رشادآخندزاده) صاحب، د سترې محکمې د بشري سرچینوعمومي رئیس ښاغلي مولوي سیف لله آغا صاحب، د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس ښاغلي مفتي حزب الله(ابراهیمي) صاحب او د څلورم زون د ابتدائیه محکمې قضائي او اداري غړو ګډون درلود.
غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ په پیل کې ښاغلي مولوي عبدالرحمن (مطمئن) د مشرانو لخوا څلورم زون ته د نوي رئیس په توګه معرفي شو.
وروسته ښاغلي مفتي حزب الله (ابراهیمي) صاحب په خپلو خبروکې د غونډې ګډونوالو ته په خطاب کې وویل، په دندوکې تغیر او تبدیل یو اصل دی او زموږ هدف خپلو هیوادوالو ته د اسلامي شریعت په رڼا کې خدمت دی.
نوموړي زیاته کړه چې قضاء په یو هیواد کې یو له مهمو رکنونو څخه دی او پرته له قضاء په یو هیواد کې هوسا ژوند نا ممکن دی، له همدې کبله په دې مهمه دنده کې باید خپلو مکلفیتونو ته په ښه توګه متوجه شو او خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړو.
دغه راز ښاغلي رشاد صاحب د څلورم زون نوي رئیس ته د هرکلي ترڅنګ د سترې محکمې محترم پلاوي ته د کابل ولایت د محاکمو دکار د چټکتیا په اړه هم ډاډ ورکړ او وویل، د الله تعالی د رضا او د ولس د هوساینې لپاره موږ هم هر وخت پرله پسې د محاکمو څخه نظارت کوو.
غونډه د دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.




میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳